مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۷/۳۱

# غزل

پښتونه ! پاڅه دغه باب مه منه
د پښتو غاړه کې طناب مه منه

چې تل یې کور درته په جنګ وران کړی
هغه تقریر هغه خطاب مه منه

په جار وینا دا رقیبان پوه نه شو
پښتونه! نور دغه عذاب مه منه

د انتظار دا توري شپې د ژوندون
په وینو سور دغه درياب مه منه

تا ته يې ټوپک د ورور وژنې درکړ
د ورور د غوښې دا کباب مه منه

نن پسرلی دا هر پښتون ته وايي
د بې ننګۍ دغه شراب مه منه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ